**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د شهیدانو د وینو غچ یوازې د یهودي دولت په له منځه وړلو اخیستل کېږي

(ژباړه)

د روغتیا وزارت له لوري د پنجشنبې پر ماسپښین خپرې شوي شمېرې ښیي، چې د سه شنبې له سهار راهیسې پر غزه تړانګه د یهودانو د مسلسل یرغل ډېری قربانیان ماشومان، ښځې او لویان دي. په دغه یرغل کې د وژل شویو ټولو شهیدانو شمېر ۲۵ او د ټپیانو شمېر ۷٦ تنو ته رسېدلی.

د شمېرو له مخې، په شهیدانو کې ۱۱ تنه ماشومان، ښځې او زاړه وو (٦ ماشومان، ۳ ښځې او ۲ لویان). په ټپیانو کې تر نیمایي زیات (له ۷٦ ټپیانو څخه ۴۰) ماشومان، ښځې او لویان وو (۲۴ماشومان، ۱۳ ښځې، او درې تر ٦۰ کلونو پورته لویان).

سربېره پر دې، د ښکېلاکګرو له لوري پر غزه تړانګه د پرله‌پسې درېیمې ورځې یرغل په ترڅ کې په لسګونو کورونه او تاسیسات ویجاړ او سخت زیانمن شوي دي.

د دغه یرغل لومړي قربانیان څلور ماشومان او شپږ ښځې وې، چې سه شنبه سهار دوې بجې د یهودانو د جنګي الوتکو له لوري د استوګنې پر درېیو خوندي کورونو د برید په پایله کې، په داسې حال کې چې ویده وو، په ډېره خاینانه توګه ووژل شول. په ورته وخت کې یې د نورو بریدونو په پایله کې ۱۳ نور کسان هم شهیدان کړل. په دغو کسانو کې د فلسطین د اسلامي جهاد خوځښت د پوځي څانګې، سرایا القدس درې مشران هم شامل وو.

د یهودي ادارې دغه وحشت او جنایت نه لومړنی دی او نه به وروستی وي. د روان کال له پیل راهیسې او تر دغه وروستي یرغل وړاندې، د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۲۳ فلسطینیان شهیدان شوي. د مسلمانانو واکمنان خپل ظلم او غفلت ته دوام ورکوي. هر یو یې د یهودانو د رضایت تر لاسه کولو، خپلو څوکیو او واک ساتلو او د امت د شتمنیو لوټولو په لټه کې دی. دغه راز امت هم نه پوهېږي چې د دغې عام‌وژنې مخه څنګه ونیسي؛ حللاره دا ده چې دغه سرطاني دانه د امت له بدن څخه له بېخه و ایستل شي. دا کار نه دغه رویبضه (نا اهله) واکمنان کولی شي او نه د افرادو یا ډلو -که هر څومره سرښندونکي هم وي- د هڅو کار دی؛ بلکې دا کار د اسلامي امت پوځونه کولی شي چې دغه واکمنان له مخې لرې کړي او د فلسطین د ازادولو پر لور حرکت وکړي. د امت ځوانان، لویان

او ښځې به د دوی ملاتړ وکړي؛ ټول امت د دغې فتحې او ویاړ تږی دی او تیار دی چې په دغه لار کې خپل سر او مال قربان کړي.

**اې اسلامي امته:** ایا په غزه، اقصی او ټول فلسطین کې د یهودي اداري لخوا ستاسو د کورنیو، وروڼو، ماشومانو او ښځو د وینو، عزت او ناموس تر پښو لاندې کول بس نه دي؟! دا هغه یهود دي چې پیغمبران یې وژلي او د اسلام دښمنان دي؛ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ]**

**ژباړه:** *«... د هغوی د زړه دښمني د دوی له خولې (خبرو) څخه ښکاره ده او څه چې دوی په خپلو سینو کې پټ ساتلي دي، هغه له دې څخه ډېر دي. موږ تاسو ته په ډاګه څرګندې لارښوونې کړې دي، که تاسو پوهه لرئ (نو له هغو سره په اړیکو کې به پام ساتئ).»* [عمران: ۱۱۸]

**اې د مسلمانانو د پوځونو افسرانو:** که د ښځو او ماشومانو وینه، چې هر وخت له کوم جرم او ګناه پرته تویېږي تاسو غچ اخیستلو ته نه راپاروي او د مظلومو ښځو ژړا مو په رګونو کې وینه په جوش نه راولي؛ نو څه شی مو په حرکت راولي چې خپل واکمنان له مخې لرې کړئ او د مسلمانانو د مرستې او ملاتړ لپاره راودانګئ او د الله سبحانه و تعالی دغه قول تحقق ومومي:

**[يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ]**

**ژباړه:** *«... الله تعالی به ستاسو په لاسونو هغوی ته سزا ورکړي، ذلیل او خوار به یې کړي او د هغوی پر وړاندې به ستاسو مرسته وکړي، چې د ډېرو مومنانو زړونه به یخ کړي.»* [توبه: ۱۴]

نو د دنیا او اخرت د عزت ترلاسه کولو لپاره یو موټی راپورته شئ او هغه څه چې له الله سبحانه وتعالی سره دي، غوره او تلپاتې دي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ـ د ښځو برخه**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د شوال ۲۴مه**

**۲۰۲۳م کال، د مې ۱۴مه**

**د صدور گڼه: ۰۳٦/ ۱۴۴۴**

ژباړه: فریدون محتاط